# بانک

د افغانستان بانك میاشتنۍ مجله

شپاړسم کال، ۱۸۵ مه گڼه د ۱۴۴۴ کال جمادي الاول (۱۴۰۱ لیندۍ) میاشت



# وَلِي اِسلامي بانکوالي؟

۸ مخ

# هموطن!

## افغانستان خانه مشترک من و تو است.

**ما به حمایت از زیر ساخت های کشــور می توانیم افغانســتان خود را آبــاد بسازیم.**

**بلی!**

**بانکها در تمویل پروژه های زیر ساختی و ایجاد کار نقش دارند.**





# بانک

## لړلــــــیک / فهرست


| لړلــــــیک / فهرست | مخ |
|---|---|
| د افغانستان بانک د عالي شورا غونډه | ۱ |
| تدویر جلسه با هیئت رهبری نمایندگی سازمان ملل در افغانستان | ۲ |
| د تضميناتو، تأميناتو او طلباتو د استرداد په اړه د پنځه ګونو شرکتونو د ټولنې له... | ۳ |
| تدویر جلسه پیرامون تقویت و استحکام هرچه بیشتر سکتور بانکی | ۴ |
| د ملګرو ملتونو د سازمان پلاوي سره د افغانستان بانک د چارواکو لیدنه | ۵ |
| تدویر جلسه با نمایندگان پروژه مس عینک | ۶ |
| د پیسو وینځلو او د نورو جرمونو د تمویل سره د مبارزې د همغږۍ عالي کمیسیون... | ۷ |
| اسلامي بانکوالي: د بانکي سکتور پیاوړتیا او د بېوزلۍ په کمولو کې یې رول | ۸ |
| مراحل مختلف استفاده از پول از ابتدای پیدایش تا حال | ۱۳ |
| کانال قوش تیپه و نقش آن در خودکفایی اقتصاد افغانستان | ۱۵ |
| اقتصادي خبرونه | ۱۷ |
| بهرنۍ پانګونه او سوداګري: د شدیدې بېوزلۍ پر وړاندې د ویتنام د بریا راز! | ۱۹ |
| نقش شهرک های صنعتی در توسعهٔ اقتصادی | ۲۲ |
| د هېواد په اقتصادي وده کې د سړو خونو ارزښت | ۲۵ |
| د افغانستان د کرنیز سکتور فرصتونه او ننګونې | ۲۷ |
| رقابت در برنامه های اقتصادی چگونه است | ۳۰ |



د امتیاز خاوند: د افغانستان بانک

کتنپلاوی: صدیق الله خالد، احمد جواد سداد، مفتي عبدالله آخندزاده او خواجه عصمت الله ځلاند

سرلیکوال: شفیق الله بارز

مسئول مدیر: انور الله حیات

خبریالان: سید خالد خالقیار او عبدالحفیظ شاهین

ډیزاین: خالد احمد فیضي

فوټوژورنالیست: زیرک ملیا

د وېش مسؤل: نصرت الله احمدزی

د چاپ شمېر: ۱۰۰۰ ټوکه

پته: د افغانستان بانک



ټیلیفون: ۰۰۹۳۰۲۰۲۱۰۴۷۶۱

فکس: ۰۰۹۳۰۲۰۲۱۰۰۳۰۵

برېښنالیک: magazine@dab.gov.af

ویب پاڼه: www.dab.gov.af



د ثبت ګڼه: ۶۵۸



د مضمونونو او مقالو مسئولیت د لیکوالانو پر غاړه دی. د مجلې د مقالو او انځورونو څخه ګټه اخیستنه د سرچینې په ذکر کولو سره جواز لري.

مسئولیت مضامین و مقالات به نویسنده‌گان آن بر می گردد. استفاده از مقالات و تصاویر مجله با ذکر مأخذ مجاز است.



Da Afghanistan Bank-Youtube   twitter.com/AFGCentralbank   www.facebook.com/AFGCentralbank

# د افغانستان بانک د عالي شورا غونډه



د ۱۴۴۴ کـال د جـمادي الاول ۱۲ مـه دافغانستان بانک عالي شـورا چـې د دې بانک د پریکړو کولو تر ټولو لوړه مرجع ده، د اوسنیو شرایطو په پام کې نیولو سره د مناسبو پولي سیاستونو د پلي کولو او د بانکي سکتور د ټینګښت په اړه د خبـرو اترو او پریکړو کولو په موخه غونـډه جوړه کړه.

دا غونډه چې د افغـانسـتـان بـانـک د سرپرست رئیس ښاغلي عبدالقاهر (حاجي ادریس) په مشرۍ جوړه شوه، د افغانستان بانک د عالي شورا نورو غړو پـکـې پـه حضوري او آنلاین ډول ګډون درلود. په دې غونډه کې د افغانستان بانک د کړنـو د څرنګوالي او له مخکې ټـاکـل شـوو پروګرامونو د تحقق ترڅنګ د افغانسـتـان د اقتصادي وضعیت، د پولي سـیـاسـت د پلي کېدو د څرنګوالي، د بانکي سکـتـور ټینګښت، د مالي نظام ټیکاو، د ادراینو بهیر د ډیجیټل کولو، د خلکو لپاره د بـانـکـي اسانتیاوو رامنځته کولو او د یـو شـمـېـر اداري موضوعاتو په اړه بحث وشو او د قانون د احکـامـو پـه رڼـا کـې لازمـې پریکړې وشوې.

د یادونې وړ ده چې د افغانسـتـان بـانـک عالي شورا په ربعوار ډول کال کې څلور غونډې تـرسـره کـوي او د بـانـک د سیاستونو، کړنو، اجراآتو او لاسته راوړنـو په اړه پکې خبرې اتـرې او د نـظـرونـو تبادله ترسره او د افغانستان بانک د کړنـو او د هېواد مالي او بانکي نظام د پیاوړتـیـا لپاره پکې اړینې پریکړې کیږي.●

# تدویر جلسه با هیئت رهبری نمایندگی سازمان ملل در افغانستان



۱۴ جمادی الاول ۱۴۴۴- محترم حاجی ادریس سرپرست د افغانستان بانک با نماینده ویژه سازمان ملل متحد در امور افغانستان، محترمه رزا اوتونبایوا دیدار نموده و در مورد مسایل مهم گفتگو کرد.

طی این دیدار روی کاهش فقر و بیکاری، کمک های بشری، سرمایه گذاری های خارجی، انتقالات بانکی و ارتباطات، ذخایر اسعاری، قرضه های کوچک، توسعه خدمات مالی و شماری از موضوعات مهم مالی و بانکی بحث گردیده و تبادل نظر صورت گرفت.

محترم عبدالقاهر(حاجی ادریس) سرپرست د افغانستان بانک طی این نشست گفت که د افغانستان بانک در روشنایی اصول و قواعد بین المللی خواهان تعامل و همکاری مناسب با تمام نهاد های ملی و بین المللی بوده و در این زمینه از هیچ نوع سعی و تلاش دریغ نمی ورزد.

سرپرست د افغانستان بانک ضمن قدر دانی از کمک های جامعه جهانی، از نماینده سازمان ملل در امور افغانستان تقاضا نمود تا با توجه به اصول و مقررات پذیرفته شده بین المللی، در زمینه ایجاد محیط مناسب برای کاهش فقر، بیکاری و سایر چالش ها در افغانستان، همکاری نماید تا از این طریق از اثرات منفی این پدیده ها در سطح ملی و بین المللی جلوگیری گردد.

گفتنی است که محترم لطف الحق نور پسرلی مشاور ارشد پالیسی د افغانستان بانک نیز در این نشست حضور داشته و در مورد اهمیت ارتباط سکتور بانکی افغانستان با سکتور بانکی بین المللی بحث همه جانبه نمود. وی ارتباط سیستم های بانکی افغانستان با سیستم های بین المللی را در رشد اقتصادی و توسعه تجاری کشور بسیار ارزشمند توصیف نمود.

قابل یاد آوریست که در این نشست نماینده سازمان ملل در امور افغانستان خانم رزا اوتونبایوا روی ارتباط و همکاری مناسب با د افغانستان بانک تاکید ورزیده و وعده نمود که پیام هیئت رهبری د افغانستان بانک را در جلسه بعدی سازمان ملل، در میان می گذارد.●

# د تضميناتو، تأميناتو او طلباتو د استرداد په اړه د پنځه ګونو شرکتونو د ټولنې له استازو سره ليدنه



د ۱۴۴۴ کـال د جمادي الاول ۲۶ مـه ـ دافغانستان بانک د سرپرست رئيس ښاغلي عبدالقاهر حاجي ادريـس پـه مشـرۍ د ساختماني، لوجستيکي، کورنيو توليداتـو، سړک جوړونې او خدمتونو د پنځه ګونو شرکتونو د ټولنو له استازو سـره غونـډه جوړه شوه او د تضيناتـو، تـأمـيـنـاتـو او طلباتو د استرداد په اړه پکې هـر اړخـيـز بحثونه تر سره شول.

په ياده غونډه کې د افـغـانسـتـان بـانـک سرپرست رئيس ښاغلي عبدالقاهر حاجي ادريس يادونه وکړه چې د افـغـانسـتـان بانک ژمن دی چې د خپلو امکانـاتـو پـه پام کې نيولو سره د يادو شرکتونو لپاره د مصوبې سره سم اړينې اسانتياوې بـرابـرې کړي.

د يادونې وړ ده چې د افغانستان بانـک د هېواد د مرکزي بانک په توګه تل هـڅـه کړې ده چې د درنو هېوادوالو لـپـاره پـه مالي او بانکي برخو کې اړينې اسانتيـاوې رامنځته کړي.

# تدویر جلسه پیرامون تقویت و استحکام هر چه بیشتر سکتور بانکی

۱۰ جمادی الاول ۱۴۴۴ – جلسه ای به منظور تقویت و استحکام هر چه بیشتر سکتور بانکی با نمایندگان سکتور خصوصی برگزار گردید. درین جلسه نمایندگان دوایر مختلف دولتی و غیردولتی نیز اشتراک داشتند و در ارتباط با اهمیت سکتور بانکی در رشد اقتصادی کشور بحث و تبادل نظر نمودند.

درین جلسه محترم عبدالقاهر (حاجی ادریس) سرپرست د افغانستان بانک طی صحبتی از نمایندگان سکتور خصوصی اظهار امتنان نموده گفت که شما در شرایط بسیار دشوار سکتور بانکی را حمایت کردید. محترم حاجی ادریس نقش سکتور خصوصی را در رشد اقتصادی کشور مهم خوانده وعده سپرد که د افغانستان بانک تسهیلات لازم را برای این سکتور فراهم خواهد کرد.

در بخش دیگری این جلسه محترم عبدالرحمن قانت آمر عمومی نظارت بانکی د افغانستان بانک معلومات جامع در خصوص وضعیت سکتور بانکی را با اشتراک کنندگان درمیان گذاشت و از نمایندگان بانکهای تجارتی تقاضا نمود که تسهیلات لازم را به منظور ارایه خدمات بهتر برای تمام هموطنان به ویژه سکتور خصوصی فراهم نمایند.

باید گفت که درین جلسه وزرای محترم مالیه و صنعت و تجارت و نمایندگان سکتور خصوصی نیز صحبت کردند.





# د ملګرو ملتونو د سازمان پلاوي سره د افغانستان بانک د چارواکو لیدنه

د ۱۴۴۴ کال د ربیع الثاني ۲۸ – د افغانستان بانک چارواکو په افغانستان کې د ملګرو ملتونو له استازو سره لیدنه او خبرې اترې وکړې. په دې غونډه کې د افغانستان بانک د ریاست د دفتر لوی آمر ښاغلي صدیق الله خالد، د افغانستان بانک د پالیسی ستر سلاکار ښاغلي لطف الحق نور پسرلي د یوناما له استازي مرستیال ښاغلي رامیز الاکبروف او د هغه نورو همکارانو سره د ملي اقتصاد ودې، د بانکي سکتور عادي کولو او د بشري مرستو د همغږۍ په اړه خبرې وکړې او له ګډونوالو سره یې خپل نظریات شریک کړل.

د افغانستان بانک د ریاست د دفتر لوی آمر ښاغلي صدیق الله خالد په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د سازمان د دفتر له فعالیتونو څخه مننه وکړه او ویې ویل چې د افغانستان د بشري او اقتصادي وضعیت په ښه والي کې د یوناما رول اغېزناک وو. ښاغلي خالد زیاته کړه چې له نېکه مرغه د افغانستان بشري او اقتصادي وضعیت مخ په ښه کېدو دی او بانکي نظام هم زیاتې لاسته راوړنې لرلې دي.

د افغانستان بانک د پالیسی ستر سلاکار، ښاغلي لطف الحق نور پسرلي وویل چې د افغانستان بانک ژمن دی څو د ملي او نړیوالو قوانینو په رڼا کې هېوادوالو او داخلي او بهرنیو ادارو ته غوره خدمتونه وړاندې کړي.

د ملګرو ملتونو سازمان د مرستندویه پلاوي ځانګړي استازي مرستیال، ښاغلي رامیز الاکبروف دې سازمان ته په هېواد کې د بانکي آسانتیاوو رامنځته کولو په برخه کې د افغانستان بانک له همکارۍ څخه د مننې ترڅنګ د لا زیاتو همکاریو ژمنه وکړه.



# تدویر جلسه با نمایندگان پروژه مس عینک

۷ جمادی الاول ۱۴۴۴- جلسهٔ با نمایندگان شرکت MCC به ریاست محترم لطف الحق نور پسرلی مشاور ارشد پالیسی د افغانستان بانک در خصوص ایجاد تسهیلات بانکی برای آغاز کار پروژه معدن مس عینک تدویر گردید.

در این جلسه درباره تسهیل انتقالات پولی از طریق سیستم بانکی و تعدادی دیگر از موضوعات مرتبط بحث و تبادل نظر صورت گرفت.

در این دیدار، محترم پسرلی به نمایندگان این شرکت اطمینان همکاری داد و خاطرنشان کرد که رهبری د افغانستان بانک متعهد است تا تسهیلات مالی و بانکی لازم را برای تطبیق تمامی پروژه های ملی فراهم کند.

لازم به ذکر است که در این دیدار نمایندگان شرکت ام سی سی از حسن نیت د افغانستان بانک تشکری نموده و ابراز امیدواری نمودند که در این زمینه تسهیلات لازم در اختیار آنان قرار گیرد تا کار این پروژه را به نحو شایسته آغاز نمایند.



# د پیسو وینځلو

## او د نورو جرمونو د تمویل سره د مبارزې د همغږۍ عالي کمیسیون کاري کمېټې غونډه

د پیسو وینځلو او له جرمونو څخه د راپیدا شوو عوایدو د مخنیوي قانون د څلور دېرشمې مادې پر بنسټ د پیسو وینځلو او نورو جرمونو د تمویل سره د مبارزې د همغږۍ عالي کمیسیون کاري کمېټې دویمه غونډه د نهو دولتی ادارو د استازو په ګډون تر سره شوه.

یاده غونډه د مالي راپورونو او معاملو د شننې مرکز لوی آمر ښاغلي جمال ناصر رؤفی په مشرۍ د ۱۴۰۱ کال د لېندۍ میاشتې په ۲۳ نېټه د مالي راپورونو او معاملو د شننې مرکز دفتر کې جوړه شوه. غونډه د قرآنکریم د څو مبارکو آیتونو په تلاوت سره پیل شوه، په لومړي سر کې ښاغلي رؤوفی د کاري کمېټې د رامنځ ته کېدو اساس او موخې د پیسو وینځلو او له جرمونو څخه د را پیدا شوو عوایدو د مخنیوي قانون د احکامو تعمیل، نړیوال منل شوي ستندردونه، د همغږۍ عالي کمیسیون د پرېکړو لا ښه پلي کول یاد کړل.

تر هغې وروسته د غونډې ګډونوالو د خپلو چارو په اړه بحث او د نظرونو تبادله تر سره کړه، ګډونوالو د دې ډول غونډو جوړېدل د ارزښت وړ یاد کړل او یادونه یې وکړه چې دا ډول غونډې په چارو کې د همغږۍ او ستونزو ته د رسېدنې په برخه کې مرسته کولای شي. همدارنګه له اجنډا سره سم ښاغلي رؤوفی د پیسو وینځلو د ملي ګواښونو د ارزونې او د عمل پلان په اړه د غونډې ګډونوالو ته هر اړخیز معلومات ورکړل او د یادې ارزونې د بهیر پیل، د زیانونو تشخیص او د را پیدا شوو نیمګرتیاوو د لیرې کولو لپاره یې د عمل پلان په اړه مفصل بحث وکړ.

د یادونې وړ ده چې په دې غونډه کې له ګډونوالو سره د معلوماتو تر شریکولو وروسته ټولو ګډونوالو د عمل پلان د پلي کېدو د څرنګوالي او پدې برخه کې د شته ستونزو په اړه معلومات شریک کړل.●

# اسلامي بانکوالي: د بانکي سکتور پیاوړتیا او د بېوزلۍ په کمولو کې یې رول



لیکنه : سید خالد خالقیار

د بانکوالۍ په برخه کې د دودیزو بانکونو ترڅنګ په نړۍ او په ځانګړې توګه اسلامي هیوادونو کې اسلامي بانکوالۍ هم وده کړې ده چې اوسمهال د افغانستان په ګډون د نړۍ په ډېرو هېوادونو کې اسلامي بانکونه فعال او په چټکتیا سره مخ پر وړاندې روان دي. په شلمه پېړۍ کې د دودیزو بانکونو په کارولو سره مسلمانان د مالي خدمتونو د کارونې په برخه کې له ستونزو سره مخ شول څکه چې دودیزو بانکونو خپلې کړنې د سود پر بنسټ ترسره کولې چې په پایله کې یې اسلامي اقتصادپوهانو د اسلامي بانکونو د رغولو په اړه اقدام وکړ ترڅو له یوې خوا د نړۍ مسلمانان د اسلام په رڼا کې له بانکي خدمتونو برخمن شي او له بلې خوا د اسلامي نړۍ په اقتصادي وده کې ګټور رول ولوبوي.

اسلامي بانکونه هغو بانکونو ته ویل کېږي چې خپل ټول فعالیتونه د اسلامي احکامو او شریعت سره سم ترسره کوي، د بانک د تګلارو، مقرراتو او کړنلارو په جوړولو کې شرعي قوانین په پام کې نیسي او همداراز د پانګوالو او سوداګرو سره د ګټې او زیان په برخه کې د اسلامي اصولو په رڼا کې عادلانه چلند کوي. د اسلامي بانکونو بنسټیز اصول د بانك او پېرودونکی ترمنځ مشارکت (په ګټې او زیان کې شریکېدل) او د پور ورکوونکو او پانګوالو لخوا د سود اخیستنې او اداینې څخه ډډه کول دي. سربېره پر دې، په اسلامي بانکوالۍ کې په ناڅرګندو او مبهمو سوداګریزو معاملو (بیع الغرر) او هغو »

محصولاتو او خدمتونو کې چې حرام دي، پانګونه منع ده.

په دې برخه کې په لومړي ځل د "مِت-غَمر سپما بانک" (Mit Ghamr Savings Bank) چې په ۱۹۶۳ کال کې د مصر په هیواد کې جوړ شوی وو، د ګډې ګټې پر بنسټ تجارتونو ته پور ورکول شروع کړل چې د اسلامي بانکوالۍ بنسټ یې کېښود او د نړۍ د لومړي اسلامي بانک په نوم مشهور شو. دا بانک وروسته د "بنک ناصر الاجتماعی" یا د ناصر ټولنیز بانک برخه شوه. د اسلامي بانکوالۍ د خدمتونو په پیلېدو سره ډېری سوداګرو او پانګوالو د یادو خدمتونو کارولو ته مخه کړه چې ډېرې ښې پایلې یې درلودې او له مصر وروسته په مالیزیا، متحده عربي اماراتو او اروپایي هېوادونو کې هم اسلامي بانکوالۍ ته لاره پرانیستل شوه. په ۱۹۷۳ کال کې د اسلامي کانفرنس سازمان، چې اوس د اسلامي همکاریو سازمان په نامه یادېږي، د اسلامي پراختیا بانک بنسټ کېښود چې ۵۷ هیوادونه یې غړیتوب لري. اوسمهال په نړۍ کې ۵۲۰ بانکونه او د مشترکې پانګونې ۷۰۰ صندوقونه شتون لري چې د اسلامي شریعت پر بنسټ فعالیت کوي. د اسلامي بانکونو ښې بېلګې د دبۍ اسلامي بانک، د اردن اسلامي بانک، د سوډان اسلامي بانک، د قاهرې نړیوال اسلامي بانک او د بنګلادېش اسلامي بانک دي. په اروپایي هیوادونو کې د "لمصرف الریان" چې مخکې د بریتانیا اسلامي بانک په نامه مشهور وو، "د اروپایي اسلامي پانګونې بانک" او "د لندن او منځني ختیځ بانک" نومونه د یادولو وړ دي. که څه هم د افغانستان په دودیزو بانکونو کې د اسلامي بانکوالۍ دریځې شتون لري خو په هیواد کې په لومړي ځل د باختر بانک په ۲۰۱۸ کال کې پر بشپړ اسلامي بانک بدل او "د افغانستان اسلامي بانک" په نامه یې د اسلامي بانکوالۍ خدمتونه پیل کړل.

**ولې اسلامي بانکوالي؟**

څېړنې ښیي چې اسلامي بانکوالي مالي خدمتونو ته د لاسرسي ( Financial Inclusion) په برخه کې اغېزناک رول درلودای شي چې دا بیا د بېوزلۍ د کچې په کمولو کې مرسته کولای شي. مالي خدمتونو ته لاسرسی په دې معنا دی چې د ټولنې افراد او کاروبارونه داسې ګټورو او ارزانه مالي محصولاتو او خدمتونو ته لاسرسی ولري چې د دوی اړتیاوې پوره کړي. موخه یې دا ده چې د نړۍ وګړو او کاروبارونو ته، پرته له دې چې د وګړو او شرکتونو اقتصادي ارزښت په پام کې ونیول شي، ارزانه، معیاري او پایه داره مالي خدمتونه وړاندې شي او مالي خدمتونه یواځې د ټولنې شتمنو خلکو پورې محدوده پاتې نه شي او هغه وګړي چې اقتصاد یې ډېر ښه نه دی، هم پکې شامل شي. مالي خدمتونو ته د بېوزلو وګړو لاسرسی د عوایدو نابرابري کموي، د هغوی لپاره اقتصادي فرصتونه زیاتوي او په ژوند کې یې مثبت بدلونونه راولي. مالي خدمتونو ته د لاسرسي له امله بېوزله وګړي کولای شي د امانتونو، پورونو او سپما په برخه کې د بانکونو له خدمتونو برخمن شي او همدارنګه د پانګونې اسانتیاوو څخه ګټه پورته کړي. د بېلګې په ډول، خلک کولای شي چې د کاروبار د پراختیا لپاره د پانګونې د اسانتیاوو خدمتونه وکاروي او یا د خپلو ماشومانو د زدکړو په برخه کې د پور له خدمتونو ګټه واخلي. سربېره پر دې، بېوزله خلک کولای شي چې د اسلامي بانکوالۍ د زکات او صدقې له خدمتونو برخمن شي او خپلې اقتصادي ستونزې پرې حل کړي. همدارازه، وګړي کولای شي چې خپلې پیسې له اندېښنې پرته د خپلې عقېدې سره سم په بانک کې د سپما لپاره وساتي او په راتلونکي کې یې د پانګونې یا د خپلو اړتیاوو لپاره وکاروي او د هیواد په اقتصاد کې مثبت رول ولوبوي.

مالي خدمتونو ته نه لاسرسی ( Financial Exclusion) یعنې د بېلابېلو لاملونو له کبله د مالي خدمتونو څخه د وګړو بې برخې پاتېدل د بېوزلۍ، بېکارۍ او د پراختیا او ودې د ټیټې کچې یو له عمده عواملو ګڼل کېږي. مالي خدمتونو ته د نه لاسرسي په عواملو کې د عوایدو د کچې، سن، جنسیت، له مالي سازمانونو لرېوالی او د زدکړو د کچې سربېره عقیده هم شامله ده. یعنې ډېری خلک د اسلامي مالي خدمتونو په نشتون کې د سودي سیستم له کبله نه غواړي چې مالي خدمتونه وکاروي او په پایله کې د بانکي خدمتونو څخه بې برخې پاتې کېږي. د اسلامي همکاریو د سازمان غړو هیوادونو په تړاو د ترسره شوې یوې څېړنې پایلې ښیي چې د یاد سازمان په هغو غړو هیوادونو کې چې د

«

اسلامي بانکوالی او مالي سیستم يې درلود، مالي خدمتونو ته د لاسرسي کچه د هغو غړو هیوادونو په پرتله چې د اسلامي بانکوالی سیستم يې نه درلود، لوړه وه. همدارنګه نوري څېړنې دا په ډاګه کوي چې اسلامي بانکوالی د یاد سازمان د غړو هیوادونو د سالم اقتصاد جوړولو په برخه کې د پام وړ رول درلودلی دی.

د اسلامي ټولنو هغه وګړي چې د سود له امله په بانکي سکتور کې ونډه نه اخلي، د اسلامي بانکوالی له لارې تشویقیږي څو له مالي خدمتونو څخه برخمن شي او په بانکونو کې حسابونه پرانیزي او پانګونې وکړي ځکه چې اسلامي بانکونه د خلکو لپاره داسې بانکي خدمتونو ته لاره هواروي چې خلک وکولای شي ترڅو خپلې پیسې د اسلامي احکامو په رڼا کې په بانکونو کې وساتي او یا يې د پانګونې لپاره په روا توګه وکاروي او حلاله ګټه ترلاسه کړي.

د حلالو بانکي خدمتونو له امله پر بانکي سکتور د ولس اعتماد زیاتیږي او دې ته تشویقیږي چې خپلې پانګې او شتمنۍ په کورونو کې د ساتلو پر ځای په اسلامي بانکونو کې وساتي. په پایله کې یې د بانکي سکتور د فعالیتونو لمن نوره هم پراخیږي او پانګوال دې ته هڅیږي چې په اسلامي بانکوالی کې زیاته پانګونه وکړي او د بانکي سکتور د لاپیاوړتیا لپاره لاره هموراه شي.

**د اسلامي بانکوالی چوپړتیاوې او محصولات**

اسلامي بانکوالي ګڼ شمېر محصولات لري. دلته يې د هغو محصولاتو په هکله مالومات شریکیږي چې په افغانستان کې د مالي مؤسسو لخوا وړاندې کیږي:

**مرابحه**

په دې معامله کې پېرودونکی د خپل سوداګریز فعالیت د پیل یا پراختیا لپاره له بانک سره د خپلې اړتیا وړ توکو مالومات شریکوي او ورڅخه د مرستې غوښتنه کوي. بانک د پېرودونکی د اړتیا وړ توکي پېري او بیا يې د ټاکل شوې ګټې په اضافه کولو سره پر پېرودونکی پلوري. پېرودونکی په نغدي بڼه، د یو یا ډېرو قسطونو له لارې د بانک پیسې چې د تمویل اصلي مبلغ (د پېرل شوي توکي بیه) او د تمویل ګټه (د توکي پر بیې باندې اضافه شوې ګټه) رانغاړي، پر ټاکلي وخت بېرته اداء کوي.

**مضاربه:**

هغه تړون ته وايي چې د دوو لورو ترمنځ ترسره کیږي چې د تړون یوه خوا (د پانګې خاوند یا رب المال) خپله پانګه د کار لپاره برابروي او بله خوا (مضارب) د سوداګریزو عملیاتو لپاره خپل کاري څواک او مهارت په کار اچوي. د دواړو خواوو ترمنځ ګټه د مخکینۍ هوکړې پر بنسټ ویشل کیږي. زیان په هغه صورت کې چې قصدي او یا د مضارب د غفلت په پایله کې رامنځ ته شوی نه وي، د پانګې خاوند یا رب المال پر غاړه وي.

**مشارکه (شراکت):**

هغه تړون چې د بیلابیلو یا یوشان پانګو درلودونکي اشخاص پکې د یو اقتصادي فعالیت په ګټه یا زیان کې له یو بل سره شریکیږي. بانک او پېرودونکی له ګډې پانګې سره اقتصادي فعالیت پیلوي. په مشارکه کې ګټه د مخکینۍ هوکړې پر بنسټ او زیان د هر شریک د پانګې د کچې په تناسب ویشل کیږي.

**مزارعه (کرنیز تمویل):**

مزارعه د ځمکې د خاوند او د کارګر ترمنځ د شراکت تړون ته وايي چې ترلاسه شوې حلاله ګټه له مخکې ټاکل شوې سلنې پر بنسټ د دواړو خواوو ترمنځ ویشل کیږي. د دې تړون پر بنسټ بانک د ټاکلي مودې لپاره کرنیزه ځمکه د کښت لپاره د پېرودونکی په واک کې ورکوي او یا دا چې بانک د پېرودونکی پر ځمکه باندې پانګونه کوي او د کښت په برخه کې له هغه سره مرسته کوي، چې په دې صورت کې ترلاسه شوې ګټه هم د هوکړې پر بنسټ د دواړو خواوو ترمنځ ویشل کیږي.

**اجاره:**

هغې هوکړې ته وايي چې پر بنسټ يې د یوې شتمنۍ خاوند بل شخص ته د ټاکلې مودې لپاره د ټاکلې بیې (کرایې) په بدل کې د خپلو شتمنیو لکه ځمکې، ودانۍ، ماشین او داسې نورو د کارولو حق ورکوي. په اسلامي بانکوالی کې اجاره د یوې شتمنۍ یا توکي په کرایه ورکولو ته وايي چې له لارې يې بانک د پېرودونکی د اړتیا وړ توکي د یوې ټاکلې مودې لپاره هغه ته په کرایه ورکوي.

**استصناع:**

د اسلامي بانکوالی یو ډول تړون دی چې بانک د پېرودونکی د اړتیا وړ توکي د هغه د ټاکل شویو ځانګړتیاوو سره سم »

برابروي. کله چې د پام وړ توکي چمتو شي، بانک یې د ترون له مخې له ټاکل شوې بیې سره سم پر پېرودونکی باندې پلوري. بانکونه کولای شي د استصناع له ترون سره سم د تولید او صنعت په برخو کې پېرودونکی ته اړینې اسانتیاوې برابرې کړي. د توکي بیه، ځانګړتیاوې او د سپارلو موده باید د بانک او پېرودونکی ترمنځ په مخکیني هوکړه کې په واضح توګه مشخصه شي.

**حسنه پور:**

حسنه پور هغه ترون ته وایي چې بانک (پور ورکوونکی) یوه ټاکلې اندازه شتمنی/پیسې د پور په بڼه له ټکټانې او د اضافي توقعاتو پرته د پېرودونکی (پور اخیستونکي) په واک کې ورکوي. پېرودونکی اړ دی چې د ترون په پای کې دا پیسې/شتمني په بشپړه توګه او پرته له ټکټانې یا کسر پور ورکوونکي ته ورکړي.

**ودیعه:**

ودیعه یو ډول امانت ایښودلو ته وایي چې یو شخص خپلې پیسې له ټکټانې یا ګټې پرته د ساتلو لپاره په اسلامي بانک کې د امانت په توګه ږدي. هرکله چې پېرودونکی وغواړي خپلې پیسې له بانک څخه اخیستلای شي. بانک د پېرودونکی لخوا د اجازې په صورت کې کولای شي له دې امانتونو څخه کار واخلي.

**پایله او وړاندیزونه**

اسلامي بانکوالي اوس د نړۍ د اقتصاد یوه پېژندل شوې برخه ده او د اسلامي هیوادونو سربېره په غیر اسلامي نړۍ کې هم مخ پر وړاندې روانه ده. څېړنې ښیي چې اسلامي بانکوالي مالي خدمتونو ته لاسرسی زیاتوي، بانکي سکتور پیاوړی کوي او د فقر په کمولو کې ارزښتمن رول لوبوي. همدارنګه، د دودیزې بانکوالی په پرتله اسلامي بانکوالي د مالي ناورین له منفي اغېزو په لږه کچه زیانمنیږي، په اسلامي محصولاتو کې پانګونه ډېر عاید رامنځته کوي، او هغه پورتفولیو چې اسلامي محصولات لري، د خطر کمه کچه لري. په افغانستان کې د اسلامي بانکوالی خدمتونو ته پراختیا ورکول د وخت اړین ضرورت دی. د دې موخې لپاره یواځې د اسلامي بانکونو رامنځته کول بسنه نه کوي څکه کیدی شي چې په اقتصاد کې اسلامي بانکي خدمتونه شتون ولري خو د دې خدمتونو د شتون، لاسرسي، او بیو په تړاو د پوره مالوماتو د نشتون له کبله خلک ونشي کولای چې یادو خدمتونو ته لاسرسی ولري او ویې کاروي. په دې برخه کې د بانکونو لویوالی یعنې د بانکونو د پانګه ایز ارزښت لوړه کچه، د اقتصادي ودې فرصتونه، د صرافی خپلکاره ماشینونه (ATM)، او د سیمې په کچه د بانکونو ځانګې کولای شي چې مالي خدمتونو ته د لاسرسي کچه زیاته کړي. همدارنګه، د بانکي سکتور لخوا اغېزناک عامه پوهاوی ډېر اړین دی څو د هیواد ګوټ ګوټ ته د اسلامي بانکوالی د خدمتونو په تړاو مالومات ورسیږي او خلک یې له ګټو بې خبره پاتې نشي. د دې کار لپاره د عامه پوهاوي بېلابېل پروګرامونه چې په مستقیمه او غیرمستقیمه توګه خلک راونغاړي، ډېر ارزښتمن بلل کیږي.

سرچینې:

1. World Bank. (2015a). World Bank report on Poverty and Development in Africa, March 31, 2015.
2. World Bank. (2015b). World Bank report on Islamic Finance, March 31, 2015.
3. CBN Journal of Applied Statistics (2018), Can Islamic Banking and Finance Spur Financial Inclusion? Evidence from Sub-Saharan Africa
4. Mohieldin, M., Iqbal, Z., Rostom, A., and Fu, X. (2015). The Role of Islamic Finance in Enhancing Financial inclusion in Organization of Islamic Cooperation (OIC) Countries. Islamic Economic Studies, 20(2), 55-120.
5. Bose, S., Bhattacharyya, A., and Islam, S. (2016). Dynamics of firm-level financial inclusion: Empirical evidence from an emerging economy. Journal of Banking and finance Law and Practice, 22(1), 47-68
6. Morrissey, R. (2012). Effects of Islamic banking on Financial Market Outcomes in GCC Countries and Iran. Cornell International Affairs Review, 6(1).
7. Arouri, M. E., Ameur, H. B., Jawadi, N., Jawadi, F., and Louhichi, W. (2013). Are Islamic finance innovations enough for investors to escape from a financial downturn? Further evidence from portfolio simulations. Applied Economics, 45(24), 3412-3420.
8. Gheeraert, L. (2014). Does Islamic finance spur banking sector development? Journal of Economic Behavior and Organization, doi:http://dx.doi.org/10.1016.
9. Naceur, S. B., Barajas, A., and Massara, A. (2015). Can Islamic banking increase financial inclusion?. IMF Working Paper WP/15/31.

۱۰– د مالي سواد رساله، د افغانستان بانک

د افغانستان بانک د خپلو هغو پتمنو هېوادوالو ملاتړ او زغم ته چې د تېر یو کال په اوږدو کې یې خپل بانکونه یوازې پرې نه ښودل، د قدر په سترګه ګوري او دوامداره ټینګښت او ټیکاو ته تر رسېدو پورې ستاسو همکارۍ ته اړتیا لري.





# مراحل مختلف استفاده از پول از ابتدای پیدایش تا حال

عبدالحفیظ شاهین

انسانها برای رفع نیازهای زندگی روزمره شان به خرید اجناس و خدمات به پول ضرورت دارند. قبل از ایجاد پول، انسانها برای بدست آوردن کالاهای مختلف جنس را به جنس تبادله می کردند که این امر باعث مشکلات در تعیین ارزش و معیار مخصوص برای سنجش گردید. ازینکه سنجش ارزش کالاها به طرفین معامله ارتباط می گرفت، در این زمینه کدام معیاری خاص وجود نداشت تا مشخص گردد که یک جنس مخصوص را به چه مقدار جنس دیگر مبادله کنند که در نتیجه مردم با مشکلات مانند عدم ثبات قیم اجناس مواجه شدند. در این سیستم وسیله مبادله وجود نداشت و خود جنس با جنس دیگر معامله می شد. مشکلات این روش باعث شد تا انسانها به یک وسیله مبادله دست یابند که در نتیجه پول به وجود آمد. پول در طول تاریخ مراحل مختلفی را سپری نموده است و به انواع و نامهای مختلف عرض وجوده نموده است که به طور نمونه می توان از پول کالایی، پول فلزی، پول کاغذی، پول تحریری و پول الکترونیک نام برد.

پول کالایی اولین وسیله مبادله در جهان بود که یک جنس خاص را به عنوان پول می پذیرفتند و از آن در معاملات تجاری خویش استفاده می کردند. پول کالایی نظر به شرایط جغرافیایی و شرایط داخل جامعه از هم فرق می کرد به طور مثال ایرانیها از غلات و هندوستانی ها از صدف به عنوان پول استفاده می کردند. به همین ترتیب، در آمریکای جنوبی دانه‌های قهوه و در شرق آسیا چای منحیث پول مورد استفاده قرار می گرفت. در حوالی ۷۰۰۰ سال قبل از میلاد مسیح در بعضی از کشور های قاره آسیا و کشور های غربی تمدن های وجود داشت که طلا و نقره را استخراج کرده از آن ابزاری برای مبادله می ساختند. بعداً ۳۰۰۰ سال قبل از میلاد مردم در مصر و بین النهرین از شمش طلا با وزن و استندرد خاص در «

داد و ستد شان کار می گرفتند. متعاقباً در بعضی کشور های آسیایی مردم از صدف، پوست حیوانات، سنگ چاقو و غیره در معاملات روزمره شان استفاده می کردند، این پروسه تا زمان پیدایش سکه ادامه داشت.

بعضی مؤرخان سکه به این باوراند که پول فلزی یا سکه برای اولین بار در حدود ۷۰۰۰ سال قبل از میلاد در زمان پادشاهی لیدی در دوره آهن در غرب آناتولی ترکیه امروزی در منطقه ازمیر و مانیسا پایتخت لیدیه ساخته شده است. این سکه ها از ترکیب طلا و نقره ساخته می شد و بنام الکتروم یاد می گردید.

سکه ها در آن وقت اشکال مختلف و نامنظم داشتند وزن این سکه ها در حدود ۱۴ – ۱۵ گرام بوده و در یک روی سکه ها تصویر وجود داشت که به گمان اغلب تصویر شاهان لیدیه در آنها حک گردیده بود. کسانی که در عصر لیدیه سکه را ضرب می زدند، همه شان مهاجرین یونان بودند. به همین سبب اختراع ضرب سکه بعد از اختراع خط، بزرگترین اختراع است که مردم آنرا مدیون یونانی ها می دانند.

پول کاغذی برای اولین بار در سال ۱۰۰ میلادی توسط چینی ها ساخته شد، آنها کاغذ را از کتان، کنف و غیره می ساختند و از آن در نوشتن اسناد استفاده می کردند. اسکناس های کاغذی در قرن هفتم میلادی در کناره دریای زرد چین در زمان پادشاهی ( تانگ) مورد استفاده قرار گرفت. بالاخره این اسکناس ها به اسکناس های رسمی مبدل شد و در مبادلات و معاملات خرد و بزرگ میان مناطق مختلف قابل استفاده بود. بعد ها زمامداران چینی تصمیم گرفتند تا تجار سکه های شان را در خزانه دولت تحویل نموده، در بدل آن اسکناس اخذ نمایند، تا اینکه استفاده از پول کاغذی در زمان سلسله ( سانگ) در حدود ۹۶۰ میلادی به شکل رسمی در چین آغاز شد.

در اوایل قرن ۱۹ میلادی پول تحریری در سراسر جهان نشر و همراه با پول کاغذی مورد استفاده قرار گرفت و آن را بنام های پول بانکی، ثبتی و دفتری نیز می گویند. پول تحریری با سکه و پول کاغذی فرق زیاد دارد. مهمترین فرق آن این است که تجار و سایر افراد می توانند در دادوستد شان پول تحریری را نپذیرفته، پول دیگری مانند اسکناس ملی یا بین المللی را درخواست نمایند. سکه و پول کاغذی همیشه دارای ارزش ثابت بود. این پول قابلیت خروج از کشور و داد و ستد در خارج را داشت، در حالی که امکان داشت پول تحریری با تغییر دولت و یا فرامین جدید تغییر و یا هم فاقد ارزش شده، از بین می رفت.

در جریان دهه های اخیر بیشتر افراد به جای به کار گیری از پول حکمی یا چک از بانکداری الکترونیکی استفاده می کنند. باید یادآور شد که پول الکترونیکی یکی از ابزارهایی است که باعث انتقال وجوه از یک حساب به حساب دیگر شده و سهولت ها را در این عرصه به میان می آورد. به همین علت پول الکترونیکی را پول مجازی نیز می گویند.●

---

منابع:

۱-بررسی تاریخچه پول و روند تکامل آن تا بیت کوین / تاریخ نشر ۱۲ / ۱/ ۱۳۹۹ Bitcoin/ https://omidfadavi.me › ... › مفاهیم پایه ارز دیجیتال

۲-مراحل نشأة النقود – موضوع / تاریخ نشر ۱۲ / ۷ / ۱۴۰۰ https://mawdoo3.com › ... › معلومات عامة

۳- Stages of Evolution of Money - Your Article Library /

۴- https://www.yourarticlelibrary.com

# کانال قوش تیپه

## و نقش آن در خودکفایی اقتصاد افغانستان

زیرک ملیا
فوتوژورنالیست د افغانستان بانک

افغانستان دارای منابع فروان آب، کوه های بلند و اراضی باکیفیت و کمیت خوب می باشد. هر منطقه این کشور دارای دشت و دره و آب و هوای مخصوص است. باوجود داشتن منابع مختلف آب، افغانستان تا حال نتوانسته است تا آن را به طور موثر مهار نموده و ازین منابع استفاده بهینه کند. اخذ تصامیم سود آور اقتصادی و سرمایه گذاری روی منابع طبیعی افغانستان یکی از مهمترین مباحثی است که جهت ادامه حیات و رشد اقتصادی این کشور نهایت ضروری پنداشته می شود.آمارها نشان میدهند که حدود ۶۵ الی ۸۰ درصد مردم افغانستان مصروف زراعت و مالداری می باشند.در گذشته ها، نبود امنیت تطبیق پروژه های انکشافی را دشوار ساخته بود که خوشبختانه در حال حاضر افغانستان شاهد امنیت نسبتاً بهتر است و زمینه برای سرمایه گذاری در پروژه های انکشافی فراهم گردیده است. تنظیم موثر آب و خاک افغانستان از طریق پروژه های انکشافی در زمینه برآوردن اهداف اقتصادی و نیازهای زراعتی کشور کمک خواهد کرد. یکی از چنین پروژه ها کانال قوش تیپه است که جهت مهار آب و استفاده موثر از اراضی ولایات شمالی افغانستان به راه انداخته شده است.

کانال قوش تیپه در زمان جمهوریت مرحوم سردار داود خان برنامه ریزی شده بود. این کانال از دریای آموسرچشمه می گیرد که یکی از پنج دریای بزرگ کشور به شمار می رود. دریای آمو در بخش آبیاری زمین های زراعتی نقش خوبی داشته است اما می توان از طریق پروژه های انکشافی از آن استفاده موثر و فایده بیشتر نمود زیرا حدود یک میلیون هکتار زمین در کنار دریای آمو بی حاصل افتاده است. با ۲۸۵ کیلومتر طول، ۱۵۲ متر عرض و ۸.۵ الی ۱۲.۵ متر عمق، این کانال از ولسوالی کلدار ولایت بلخ آغاز می گردد که از ولسوالی های خلم، نهرشاهی، دولت آباد ولایت بلخ و ولسوالی های آقچه، مردیان و خواجه دوکوه ولایت جوزجان عبور نموده، الی ولسوالی اندخوی ولایت فاریاب ادامه می یابد. کانال قوش تیپه دارای سه کانال فرعی و ده ها کانال خرد و کوچک بوده که ظرفیت آبیاری ۵۵۰ هزار هکتار زمین ولایات کندز، بلخ، سمنگان، سرپل، جوزجان و فاریاب را مساعد خواهد کرد. ظرفیت انتقال آب کانال قوش تیپه در فی ثانیه ۶۵۰ متر مکعب بوده که آب را از دریای آمو به دشت های ولایات بلخ، جوزجان و فاریاب انتقال می دهد و ظرفیت سالانه اش به ۹ میلیارد متر مکعب میرسد. در حال حاضر ،کار روی فاز اول این کانال آغاز گردیده است که از ولسوالی کلدار الی ولسوالی دولت آباد ولایت بلخ، فاصله ۱۰۸ کیلومتر را در بر می گیرد. بودجه اختصاص شده برای فاز اول ۸.۲ میلیارد افغانی تخمین شده است. در فاز اول این پروژه ۳۳۸۶ ماشینری مختلف النوع فعالیت داشته و زمینه کار را به طور مستقیم برای حدوداً ۵۵۰۰ نفر و به طور غیر مستقیم به هزاران تن دیگر مساعد می سازد که در ۱۴۴ نقطه کاری پروژه مصروف ساخت و ساز می باشند. مطابق پلان از قبل تعیین شده قرار بر آن بود که روزانه ۳۵۰ هزار مترمکعب کندن کاری کانال صورت گیرد اما در حال حاضر نظر به سرعت کار و علاقه و تعهد کارگران و انجینران، کار سرعت بیشتر را بخود گرفته است و طی دو شفت شب و روز کار می کنند و ۷۲۰۰۰۰ متر مکعب که در یک روز کندنکاری صورت می گیرد. کار فاز اول این پروژه ۳۴ درصد تکمیل گردیده است.

یکی از مشکلاتی که سد راه این کانال وجود دارد، نبود سرک ها به امتداد کانال میباشد. شرکت های قراردادی و کارگران ساعت ها از دشت های ریگی میگذرند تا به کانال برسند. به همین ترتیب مشکل دیگر در راستای کار، باد های موسمی است که سبب طوفان های ریگی شده و زمینه فعالیت را دشوارتر می سازند. امید در زمینه ساخت و ساز سرک های منتهی به این کانال نیز توجه

»












صورت گرفته و حکومت تلاش های مؤثری را در زمینه ساخت و ساز و نهایی سازی این پروژه بزرگ انجام دهد.

تکمیلی کانال قوش تیپه باعث آبیاری زمین زراعتی گردیده، منجر به رشد سکتور زراعت خواهد شد و راه را برای میکانیزه سازی و معیاری سازی این سکتور هموار خواهد کرد. باید گفت که این کانال دشت های هموار کشور را آبیاری خواهد کرد تا دشت های بی حاصل به مکان های زراعتی، گردشگری و تولیدات داخلی تبدیل گردد. این کانال می تواند نیاز های کشور به گندم را تا اندازه زیاد رفع سازد، زیرا افغانستان سالانه بیشتر از یک میلیارد دالر برای خرید گندم، آرد و غله جات هزینه می نماید. کار این پروژه به سرعت به پیش میرود و امیدواری در زمینه استفاده موثر از منابع آبی کشور را افزود نموده است. اگر از ذخایر آبی کشور استفاده بهینه صورت گیرد، افغانستان نه تنها سرسبز و از نظر گندم خودکفا میشود بلکه به محیط زیست و شرایط اقلیمی نیزکمک می کند. تطبیق این پروژه نه تنها رشد و انکشاف زراعت را به بار خواهد آورد بل زمینه کار را برای هزاران تن از هموطنان ما مساعد نموده و تبع آن بر اقتصاد کشور تاثیر مثبت خواهد گذاشت. / منبع : وزارت اقتصاد کشور

# اقتصادي خبرونه



شرکت برشنا از علاقه مندی تاجران کشور چین در سرمایه گذاری تولید ۵۰۰ میگاوات برق با استفاده از زغال سنگ در افغانستان خبر می دهد. قرار است هیئت تخنیکی افغانستان و چین طی نشست ها این موضوع را به بحث بگیرند.

آمارها نشان می دهد که افغانستان در حدود ۱۶۰۰ میگاوات برق نیاز دارد که ۳۰ درصد آن از طریق منابع داخلی و باقیمانده از کشورهای ازبکستان، ترکمنستان، تاجکستان و ایران تامین می‌کند. در عین حال وزارت انرژی و آب می گوید که قرارداد برق بین ازبکستان و افغانستان برای سال ۲۰۲۳ تمدید گردیده است. طبق این قرارداد کشور ازبکستان در زمستان این امسال ۴۵۰ میگاوات برق را در اختیار افغانستان قرار خواهد داد.



**افغانستان د اقتصادي ځان بسياينې او بهرنۍ پانګونې او سوداګرۍ په لور ګام اخلي**

د هيواد د سوداګرۍ او صنايعو وزارت وايي چې داسې پلانونه او ستراتيژۍ يې په پام کې نيولې دي چې پلي کول به يې په افغانستان کې پانګونې او کاري فرصتونو ته لاره هواره کړي.


ياد وزارت وايي په پام کې ده چې د ځان بسياينې ملي پروګرام پيل کړي او ټول دولتي سازمانونه او ولس وهڅوي چې داخلي محصولات وکاروي. دا وزارت زياتوي چې ايران، روسيه، چين او نور هيوادونه په افغانستان کې سوداګرۍ او پانګونې ته لېواله دي او د چين صنعتي پارکونو او د حرارتي بربېښنا د توليد په برخه کې د ځينو پروژو په هکله خبرې رواني دي چې په دې کې له ايراني او روسي پانګوالو سره خبرې اترې هم شاملې دي.

# بهرنۍ پانګونه او سوداګري: د شدیدې بېوزلۍ پر وړاندې د ویتنام د بریا راز!

ژباړه: توحیدالله صافي
(دا مقاله له اکانومیسټ مجلې ژباړل شوې)

تېر کال د کرونا ویروس د نړۍ پر ټولو هیوادونو خپلې منفي اغېزې پرېښودې خو د دې اغېزو د زغملو په برخه کې د ویتنام هیواد کړنو ته د نړۍ لخوا د ستاینې په نظر وکتل شول. ویتنام اوس مهال د کرونا وبا د خپرېدو له بد حالته تېرېږي خو تر نیمایي حده یې پرې کابو موندلې دی. د دې هېواد ځینې برخې تر جدي ټولبندیز لاندې دي او زیات شمېر فابریکو خپل فعالیتونه کم کړي او یا یې بند کړي دي لکه د نایک کمپنۍ لپاره د بوټانو جوړولو او د سامسنګ کمپنۍ لپاره د ځیرکو موبایلونو د تولیدولو فابریکو او داسې نور چې د نړیوالې عرضې ځنځیرونو په بهیر کې یې خنډ او ځنډ رامنځته کړی دی. خو د وبا پر مهال لا هم د نړیوال تولید سره د ویتنام د اقتصاد د ادغام له امله د دې هېواد اقتصاد په اغېزناکه توګه پر مخ روان دی. په ۲۰۲۰ کال کې د دې هېواد ناخالصو کورنیو تولیداتو ۲.۹ سلنه وده کړې ده حال دا چې د زیاتو هېوادونو په اقتصادي وده کې د پام وړ کموالی ترسترګو شوی دی. د کرونا وبا سره سره، اوس هم داسې اټکل کېږي چې دا کال به وده نوره هم ښه شي. د نړیوال بانک وروستي اټکلونه، چې د اګست په ۲۴ نېټه خپاره شوي دي، په ۲۰۲۱ زیږدیز کال کې د ۴.۸٪ سلنه ودې زیاتوالی څرګندوي.

د یادو ښو اټکلونو لامل د ویتنام لخوا په دې هېواد کې سوداګرۍ او پانګونې ته لاره هوارول په ګوته شوي دي. په پایله کې یې د سړي سر ناخالص کورني عواید، چې د عرضې د ځنځیر تر ټولو




مهمه برخه جوړوي، ۲۸۰۰ امریکایي ډالرو ته رسېدلي دي. دا چاره د پام وړ پراختیا لامل شوې ده چې د تېرو ۳۰ کلونو په تېرېدو سره ویتنام د پنځو چټکو مخ پر ودې هېوادونو په لیکه کې شامل شوی دی او په دې برخه کې یې خپل ګاونډي هیوادونه شاته پرېښودلي. همدارنګه دولت یې حتا تمه لري ترڅو تر ۲۰۴۵ کال پورې ویتنام پر یو لوړ عاید لرونکي هېواد بدل کړي چې د دې موخې ترلاسه کولو لپاره باید دا هیواد هر کال ۷ سلنه وده وکړي. نو دلته پوښتنه رامنځته کېږي چې د ویتنام د بریا راز څه دی او آیا دا پرمختګ به دوام ومومي؟

»

ویتنام زیات وخت د ۱۹۹۰ لسیزې او د ۲۰۰۰ لسیزې چین سره پرتله کېږي، او لامل یې دا دی چې دواړه کمونیست هېوادونه دي او یواځې د یو سیاسي ګوند لخوا رهبري کېږي چې پرکاپیټالیستي نظامونو بدل شوي دي او په داسې اقتصادي وده باندې تمرکز کوي چې پر صادراتو ولاړه ده. خو دلته ستر توپیرونه هم شته او هغه دا نه چې ویتنام یواځې پر صادراتو زیات تمرکز کوي او د صادراتو کچه یې زیاته ده، بلکې د صادرونکو هېوادونو ماهیت هغه څه دي چې د ویتنام او چین ترمنځ توپیر رامنځته کوي. د عرضې له نړیوال ځنځیر سره د دې هېواد ژوره اړیکه او نښلېدل او د بهرنۍ پانګونې زیاته کچه هغه څه دي چې دا هېواد له سنګاپور سره پرتله کولای شي. له ۱۹۹۰ لسیزې راپدېخوا ویتنام هر کال د بهرنۍ مستقیمې پانګونې ښه عواید ترلاسه کړي دي چې په اوسط ډول یې د ناخالصو کورنیو تولیداتو د ارزښت په سلو کې ۶ سلنه جوړوي او د نړیوالې کچې په پرتله دوه برابره او د چین او سویلي کوریا په پرتله څو برابره زیاته ده.


کله چې ختیځې آسیا پرمختګ وکړ او د کارګرو اجورې پکې لوړې شوې، د ویتنام د کارګرو ټیټ لګښت او د اسعارو ثابت نرخ د نړیوالو تولیدوونکو پام ځان ته راوګرځاوو. دې چارې په ویتنام کې د صادراتو کچه د پام وړ زیاته کړې او په تېره لسیزه کې د داخلي کمپنیو او شرکتونو لخوا صادرات ۱۳۷ سلنه او د بهرنیو کمپنیو لخوا ۴۲۲ سلنه زیات شوي دي، خو د داخلي او بهرنیو کمپنیو ترمنځ دا ستره تشه او توپیر د دې هېواد د ودې او پراختیا پر وړاندې یوه ستره ننګونه ده ځکه چې ویتنام تر خورا ډېرې کچې د بهرنیو کمپنیو پر پانګونې او صادراتو تکیه کړې او د داخلي کمپنیو فعالیتونه کم شوي دي. زیاتو کاري فرصتونو او د تولید محصول ته په کتو سره د بهرنیو شرکتونو وده دوام موندلای شي خو دا چې دا شرکتونه تر کومه حده کولای شي د ویتنام اقتصادي پراختیا مخ پر وړاندې بوځي، په دې برخه کې ځینې محدودیتونه شتون لري. دا هېواد د خدمتونو یو ګټور سکتور ته اړتیا لري او د ژوندانه د معیارونو په لوړېدو سره ښایي په پانګونه کې د بهرنیو تولیدوونکو لېوالتیا کمه شي او کارګرانو ته به د نورو فرصتونو اړتیا پیدا شي.

په ورته وخت کې، د دې هېواد دولتي تصدۍ هم په کورني تشبث کې ونډه لري. که څه هم په ټولیز اقتصادي فعالیت او دکاري فرصتونو په رامنځته کولو کې کې ونډه کمه شوې، خو دا چې بانکونه دولتي تصدیو ته په اسانۍ ارزانه پورونه ورکوي، دوی د هېواد په اقتصاد باندې لا هم پراخه اغېزه لري. بانکونه دې تصدیو ته د ارزانه پورونو ورکولو تشه نورو دولتي کمپنیو ته د قیمتو پورونو په ورکولو سره ډکوي. په داسې حال کې چې بهرنۍ کمپنۍ په بهر کې د مالي تمویل سرچینو ته آسان لاسرسی لري خو د اوږدې مودې او منځمهاله مودې

«

بانکي پورونو د ټکټاڼي اوسط نرخ یې لوړ دی.

که څه هم، بهرنۍ پانګونې او سوداګرۍ په اقتصادي وده کې ښه رول لري خو د پایدارې اقتصادي ودې لپاره دولت اړ دی چې داخلي کمپنیو او شرکتونو او داخلي تولید ته هم پاملرنه وکړي. د دې دا په داسې حال کې ده چې ویتنام په یو وخت هم د خپلو داخلي کمپنیو د وړتیاوو لوړولو لپاره هڅه کوي او هم یې د بهرنیو کمپنیو پر وړاندې په دغه هېواد کې د پانګونې دروازې پرانیستې دي چې دا یوه اسانه چاره نه ده. د دې لپاره چې خپل کورني تولیدات او کمپنۍ پیاوړې دې توانېدلې څو د خپلو کورنیو او بهرنیو تولیدي کمپنیو او شرکتونو سره مرسته او د هغوی ملاتړ وکړي او د پانګونې فرصتونه لا زیات کړي. د ویتنام د سوداګرۍ او بهرنۍ پانګونې پالیسي خورا بریالۍ ده او ټول پانګوال یې دې ته هڅولي څو دغه هېواد ته راشي او




موخې ترلاسه کولو لپاره د دې هېواد دولت د خصوصي سکتور د ظرفیت او وړتیا لوړولو لپاره هڅه کوي چې د جنوبي کوریا د بډایه کورنۍ موډل (*Chaebol* ) یا د جاپان د بېلابېلو کمپنیو شبکې موډل(*Keiretsu*) معادل سیستم جوړ کړي چې د شرکتونو د ستر ګروپ په درلودلو سره په بېلابېلو سکتورونو کې کارونه پرمخ یوسي.

کړي، یاد هېواد په شرکتونو او کمپنیو باندې دولتي مالیه د پام وړ راټیټه کړې او وخت په وخت یې د بېلابېلو صنعتي فابریکو اداري فیسونه او د ثبت لګښتونه ۵۰ سلنه راکم کړي دي. همدارنګه د Trans-Pacific Partnership د غړیتوب په ترلاسه کولو او د سوداګرۍ او پانګونې په برخه کې د یو شمېر تړونونو او معاهدو په ترسره کولو سره ویتنام په پانګونه وکړي، او دا چاره د دې لامل شوې چې ویتنام د بهرنیو حوالو ( Remittances) تر ټولو ستر ترلاسه کوونکی هېواد وګرځي چې تېر کال یې دا کچه ۱۷ میلیارده ډالرو ته رسېده او چې ددې هېواد د ناخالصو کورنیو تولیداتو ۶ سلنه برخه تشکیلوي.

سرچینې:

The Economist September 4th 2021: Finance & Economics



# نقش شهرک های صنعتی در توسعۀ اقتصادی

افزایش سریع جمعیت در جهان، تلاش و گسترش مردم برای شهرنشینی، کمبود فرصتهای شغلی به ویژه در زراعت، فشار جمعیت بر منابع طبیعی و ناکامی در ایجاد و گسترش صنایع متوسط و بزرگ به ویژه در کشورهای در حال توسعه باعث شد که این کشورها راهبرد صنعتی سازی قریه جات را از اواسط دهه ۱۹۷۰ در برنامه های توسعوی خود مد نظر بگیرند. در این رابطه تاکید بر صنایع روستایی، صنایع کوچک، شهرکهای کوچک صنعتی و تمرکززدایی از فعالیت های صنعتی مورد توجه قرار گرفت. ایجاد و گسترش شهرک های صنعتی می تواند از طریق ایجاد تنوع و »

افزایش اشتغال و درآمد، افزایش ارزش افزوده فعالیتهای کشاورزی، گسترش فرهنگ صنعتی، نقش موثر در توازن و تعادل شهر و روستا و توسعه نواحی روستایی داشته باشد.

صنعتی شدن محور توسعه است. شاید بتوان گفت که از انقلاب صنعتی فرانسه به بعد، صنعتی شدن عمیق ترین تغییر منحصر به فرد دریافت اقتصادی، اجتماعی و محیط زیست جوامع بوده است. در سالهای اخیر نقش صنایع کوچک و متوسط مخصوصاً شهرک های صنعتی در کشورهای صنعتی و در حال توسعه رو به افزایش بوده است. بنابراین توسعه در جهان بستگی زیادی به توسعه صنعتی دارد زیرا توسعه صنعتی باعث پویایی و رشد بخش های اقتصادی، اجتماعی و محیط زیست می گردد. توسعه صنعتی در قالب شهرک های صنعتی موجب افزایش زمینه های کار و اشتغال، استفاده حداکثر و بهینه از منابع کمیاب و کاستن از اثرات مخرب محیط زیست فعالیتهای واحدهای صنعتی می گردد. برای اصلاح این وضعیت دولت ها طرح های عمرانی، صنعتی، ناحیه ای و شهری را اتخاذ کرده اند که یکی از مهمترین این طرح ها احداث و ایجاد شهرکهای صنعتی بوده است.

صنعتی شدن فرایند تغییرات اجتماعی و اقتصادی است که به موجب آن گروه های انسانی را به سمت جامعه صنعتی برتر سوق می دهد و گاهی به عنوان بخش اول توسعهٔ اقتصادی، اجتماعی و محیط زیستی کشورها محسوب شده که سریع تر از صنعت کشاورزی رشد کرده است و به تدریج نقش بیشتری در اقتصاد برای خود ایجاد می کند. به منظور حرکت در چارچوب توسعه صنعت ابتدا باید درک صحیح از مفهوم توسعه داشته زیرا در بخش صنعت و در سطح ملی در کشورهای در حال توسعه برداشت ناقصی از مفهوم توسعه وجود دارد. بسیاری از افرادی که در بخش صنعت فعال استند توسعه را نوعی از مصالحه و سازش بین توسعه صنعتی و محیط زیست میدانند.

این برداشت ناقص از توسعه بر این فرضیه استوار است که بهره مندی صنعتی و حفظ محیط زیست با هم در تضاد می باشند. افرادی که چنین تصوری دارند وظیفه اصلی خود را سودآوری دانسته و بهبود شرایط محیط زیستی را دارای اولویت نمی بینند. در سطح ملی نیز چنین برداشت هایی وجود دارد. در کشورهای که به سرعت در جهت صنعتی شدن گام بر می دارند جدی ترین مسئله، کمبود منابع مالی لازم برای اجرای اقدامات محیط زیستی موثر و بکارگیری فناوریهای مربوط است. هنگامی که حرکت صنعتی شدن سریع است، حجم سرمایه لازم برای جایگزینی تجهیزات قدیمی و بکارگیری فناوری کنترول آلودگی قابل ملاحظه است. در چنین شرایطی به نظر میرسد که اولویت کار باید در توسعهٔ صنعتی باشد تا مرحله بعدی نیازهای مالی اقدامات محیط زیستی فراهم شود. مفهوم توسعه ابتدا در سال ۱۹۸۰ توسط گروه استراتیژی حفاظت جهان و بعد در سال ۱۹۸۷ در گزارش برانت لند ( Branit Land) مورد بحث قرار گرفت. گزارش برانت لند که با عنوان "آینده مشترک ما" در سال ۱۹۸۷ از سوی کمیسیون جهان محیط زیست و توسعه به ریاست خانم گرد هارلم برانت لند ( Gurd Arlum Branit Land) انتشار یافت. بعضی از نکات مهم در این گزارش که عبارتند از مسائل مربوط به توسعهٔ اقتصادی و مسائل و مشکلات مربوط به محیط زیست، غیر قابل تفکیک اند. به این معنی که تنزل قابلیت های محیط زیست باعث تحلیل پتانسیل توسعهٔ اقتصادی میشود. از سوی دیگر فقر و

»

عدم توسعه می تواند علت و عوامل مسائل فراگیر محیط زیستی باشد.

صنایع کوچک و متوسط و شهرکهای صنعتی نقش قابل توجه ای را در توسعهٔ اقتصادی و اجتماعی ایفا میکنند. آنها ستون فقرات بخش خصوصی را تشکیل میدهند، که بیش از ۹۰ درصد از بنگاههای جهان و ۶۰ درصد از اشتغال را این بخش تشکیل میدهد. میزان مشارکت بنگاههای کوچک و متوسط در بخش های صنعتی (صنایع کوچک و متوسط و شهرکهای صنعتی) و در کشورهای در حال توسعه حتی بیشتر از ۹۰ تا ۹۵ درصد کل صنایع کوچک یا متوسط و ۷۰ تا ۷۵ درصد اشتغال این صنایع را تشکیل داده است که ۵۰ تا ۶۰ درصد از محصولات صنعتی را تولید می کنند. در کشورهای در حال توسعه صنایع کوچک و شهرکهای صنعتی اغلباً تنها چشم انداز واقعی برای اشتغال زایی و رشد ارزش افزوده است. به طور خلاصه تجارب کشورهای توسعه یافته و برخی از کشورهای در حال توسعه نشان میدهد که اگر تجمع های صنعتی درست بکار گرفته شود با همراهی سایر اقدامات منجر به تشویق و ترغیب صنعتی شدن و هدایت صنایع از نظر استقرار صنایع گردیده و به اهداف توسعهٔ صنعتی و اقتصادی کمک می نماید.

برخی از این اهداف عبارت اند از:

۱- تشویق و ترغیب صنعتی شدن کشور.

۲- افزایش اشتغال در صنایع در سطح منطقه.

۳- جذب سرمایه گذاریهای بخش خصوصی.

۴- تشویق، ترغیب و توسعهٔ صنایع کوچک کشور.

۵- ایجاد تغییرات و بردن اشتغال در مناطق حاشیه ای شهر و مناطق روستایی.

۶- ایجاد تغییرات ساختاری در توسعه و اشتغال به خصوص تنوع تولید.

۷- بهبود کیفیت تولید و بالا بردن بهره وری به آموزش نیروی انسانی.

۸- کاهش هزینه با کاهش سرمایه گذاری های صاحبان صنایع.

۹- کمک به صاحبان صنایع در به دست آوردن زمین مناسب، تجهیزات و ساختمان.

۱۰- برقراری ارتباط بین تولیدات بخش کشاورزی، بخش صنعتی و کمک به صنایع کوچک.

۱۱- توسعهٔ کارآفرینی و توسعهٔ تکنالوژی ارتباطات.

۱۲- پیوند عمیق و اصولی و ایجاد سازگاری بین صنایع کوچک، متوسط و بزرگ.

۱۳- ایجاد زمینه های ساختاری و عملکردی در جهت توسعهٔ خوشه های صنعتی.

خیرمحمد"محمدی"
اقتصاددان ساحوی زون غرب
د افغانستان بانک

منابع:

۱- رضویان، ۱۳۷۶، مکان گزینی واحدهای صنعتی بحثی در اقتصاد قضا□ انتشارات ورپردازان، تهران.

۲- فرقانی و علی پور گیل کلایه، ۱۳۸۷، مسایل مکانیابی مراکز صنعتی ماهنامه آموزشی در زمینه مدیریت (تدبیر) شماره ۱۹۶.

۳- مهدوی م و طاهرخانی، ۱۳۸۳، کاربرد آمار در جغرافیا، نشر قومس، تهران.

4-World Bank, 2007, 147

5- Homochain. K.2000 "Industrial Estate Authority of Thailand Strategy for Environmental Compliance. Jatle.V,1994" Fra structural Facilities in Industrial Estate.

6- Goletti F, 2006 "Agricultural Diversification and Rural Industrialization as a Strategy for Rural Income Growth and Poverty Reduction in Indochina and Myanmar".

# د هېواد په اقتصادي وده کې د سړو خونو ارزښت

په هېواد کې د تازه مېوو او ترکارۍ د خوندي ساتلو لپاره په منظم ډول سړې خونې جوړې شوې دي،ترڅو د صادراتي چارو د سمون او تنظیم په موخه د تازه مېوو او ترکارۍ د خوسا کېدو مخه ونیول شي.

د کرنې، اوبو لګونې او مالدارۍ وزارت د معلوماتو پر بنسټ په ټول افغانستان کې درې زره او اووه لس سړې خونې فعالې دي. دا سړې خونې په تېرو پنځو کلونو کې جوړې شوې دي.د سړو خونو رغول په هېواد کې د پرمختګ په برخه کې لوی ګام دی. سړې خونې دې ته زمینه برابر وي ترڅو دافغانستان تازه مېوې او ترکارۍ په معیاري ډولوساتل شي،سوداګرو او پانګوالو ته یې د پلورلو لپاره زمینه مساعده شي.

په لومړي ځل ۱۷۴۸ زېږدیز کال کې د ګلاسګو په پوهنتون کې د ویلیم کولن لخوا یوه مصنوعي سړه خونه ورغول شوه او له هغې وروسته تر اوسه پورې سړې خونې جوړېږي. او د مېوو او تازه ترکارۍ د ساتلو لپاره مهمې بلل کېږي.سړې خونې د سوداګرو، پانګوالو او بڼوالو لپاره د مېوو او ترکاریو په ساتلو کې ډېرې اړینې او مهمېګڼل کېږي، ځکه چې ددوی مېوې او ترکاري تر زیاته وخته پورې د زیانمنېدو او لمنځه تللو څخه خوندي پاتې کېږي.د سړو خونو په نشتون کې تازه مېوې او تر کاري د وخت په تېرېدو خپله اصلي بڼه له لاسه ورکوي، مړاوې کېږي، او خوند، رنګ او مزه یې بدلیږي چې په کارولو سره یې بېلابېلې ناروغۍ منځته راځي او سوداګرو ته د مالي زیان لامل کېږي که مېوې او ترکاري په سړو خونو کې خوندي وساتل شي تر زیات وخته باقي پاتې کېږي.

په افغانستان کې ډېری مېوې د اوړي په موسم کې پخېږي لکه انګور، زردالو، شفتالو، انځر او داسې نور که چېرې داسې ډول ډول مېوې او ترکاري په سړو خونو کې ونساتل شي، ژر له منځه ځي.

نن سبا د تکنالوژۍ په پرمختګ سره ډېری مېوې او ترکارۍ په میاشتو میاشتو په سړو خونو کې خوندي ساتل کېږي او بازار ته په ښه بیه وړاندې کېږي.

»



داچې په هېواد کې تازه مېوې او ترکارۍ تولیدېږي نو اړینه ده چې د دې مېوو خوندي ساتلو لپاره سړې خونې په ښه او معیاري ډول ورغول شي. د سړو خونو لپاره باید لاندې ټکي په نظر کې ونیول شي.

۱. مېوې او ترکاري باید جلا جلا وساتل شي؛
۲. له اندازې څخه زیات وخت تازه مېوې په سړه خونه کې ونه ساتل شي؛
۳. په سړو خونو کې د تازه مېوو او ترکارۍ د ساتلو نیټه باید په یاد وساتل شي؛
۴. هره ورځ دې د سړو خونو د هوا حالت تعقیب شي؛
۵. د ګرمې هوا څخه دې تازه مېوې خوندي وساتل شي؛
۶. سړه خونه باید ډېره پاکه او ستره وي ترڅو تازه مېوې او ترکاري له زیان سره مخ نه شي؛
۷. تازه مېوې او ترکاري د زیات وخت لپاره په سړه خونه کې پاتې نه شي؛
۸. پریکړ شوې مېوې په سړه خونه کې ونه ساتل شي ځکه خوند له منځه ځي؛
۹. تازه مېوې او ترکاري باید په بندو پلاستیکو کې و نه ساتل شي؛
۱۰. په سړو خونو کې تازه مېوې او لبنیات په منظم ډول په الماریو کې ځای پرځای شي؛
۱۱. سړو خونو ته زیات تګ راتګ کولو څخه ډډه وشي؛
۱۲. د سړو خونو لپاره د برښنا شتون اړین دی؛
۱۳. سړې خونې د استوګنځي څخه لرې وي؛
۱۴. د هوا ګرموالی او یخوالی په نظر کې ونیول شي؛

د یو هېواد په اقتصادي وده او پرمختګ کې د سړو خونو رامنځته کول خورا مهم رول لوبولای شي. سر بېره پردې، د افغانستان خلکو ته د کار زمینه برابروي او د تازه مېوو ساتلو په برخه کې پوره همکاري کوي. سړې خونې کولای شي چې په هر موسم کې مېوې تازه وساتي اوپه ښه بیه یې بازار ته وړاندې کړي او د وارداتو څخه مخنیوی وکړي.

د سړو خونو جوړېدل په هېواد کې د پانګوالو د پیسو سیما لپاره ډېر مهمبلل کېږي. سړې خونې لاندې ګټې لري .


۱. په سړو خونو کې مېوې او تر کاري ذخیره کېږي او بازارته وړاندې کېږي؛
۲. مېوې او ترکاري له خرابېدو څخه په امن کې پاتې کېږي؛
۳. بڼوالو، پانګوالو او سوداګر نهزیانمنېږي ؛
۴. مېوې او ترکاري په هر موسم کې موندل کېږي؛
۵. د سړو خونو په جوړېدو سره د هېواد په هر ځای کې تازه مېوې او ترکاري تر لاسه کولای شو؛
۶. په چټکتیا سره بازار ته تازه مېوې وړاندې کولای شو؛
۷. د بې روزګاره خلکو لپاره د کاروبار زمینه برابرېږي؛
۸. د تازه مېوو قیمت په بازار کې ثابت پاتې کېږي؛
۹. د صادراتو په برخه کې زیاتوالی راځي؛
۱۰. د تازه مېوو د وارداتو مخنیوی کولای شي؛
۱۱. د پانګوالو او سوداګرو لپاره د پانګونې زمینه برابرېږي؛
۱۲. بزګران په هر موسم کې د تازه مېوو څخه ګټه اخیستلی شي؛
۱۳. د سوداګرو او بڼوالو اقتصادي وضعیت ورسره ښه کېږي؛●

لیکنه : سید خالد خالقیار

اخذلیکونه:
۱--د کابل په نړیوال هوایي ډګر کې دوه سړې خونې پرانیستل شوې(۱۳۹۸)د کرنې اوبو لګونې او مالدارۍ وزارت ویب پاڼه
۲--سردخانه، معضل بخش کشاورزی(۱۴۰۰)https://www.blog.sandbadcell.com
۳--نگهداری میوه در سردخانه - آریان سرد زنجان(aryansard.com)

# د افغانستان د کرنیز سکتور

## فرصتونه او ننګونې





افغانستان د آسیا په وچه کې راګیر د ډېرو طبیعي زېرمو، کانونو او زیاتو اوبو لرونکی هیواد دی، خو بیا یې هم اقتصاد کمزوری دی. که څه هم په تېر کې د افغانستان اقتصادي او ټولنیز پرمختګ لپاره وار په وار زمینه برابره شوې ده خو بیاهم څرنګه چې لازمه وه، له دې فرصتونو سمه ګټه نه ده اخیستل شوې. د نړیوال بانک د خپرو شوو مالوماتو پر بنسټ د افغانستان د کورنیو ناخالصه تولیداتو وده په ۲۰۰۹ کال کې۲۱،۳ سلنه وه خو په ۲۰۱۹ زیږدیز کال کې ۲،۹ سلنې ته راټیټه شوه. دا چې افغانستان یو کرنیز هیواد دی او سمندر ته لاره نه لري، نو له همدې امله د افغانستان د سوداګرو مالونه اوتوکي په هیواد کې دننه خرابېږي او په کمه اندازه مالونه او محصولات نورو هیوادونو ته د هوایي، ځمکني او ترانسپورتي لارو پر مټ صادرېږي چې زیات لګښت ور باندې راځي. اړینه ده څو افغانستان د نړدې هیوادونو سره اقتصادي، سوداګریزې او دیپلوماتیکې اړیکې وساتي او د اقتصادي ودې او پرمختګ لپاره د سوداګرو او پانګوالو پام را جلب او د پانګونې لپاره لاره هواره کړي ترڅو پانګوال او سوداګر په هیواد کې دننه پانګونه وکړي.

د هیواد اړتیا پوره کولو لپاره باید دولت اقتصادي کرنیز کارونه په ځانګړې توګه داسې چمتو کړي چې کرنیزه او اقتصادي وده پکې پرمختګ وکړي، چې د دې کارونو سرته رسولو لپاره لاندې ټکي په نظر کې نیول اړین دي.

**د اوبو مدیریت**

افغانستان دنګ غرونه او پاکه هوا لري. دا هیواد ټولټال ۱۳۰ لوی او کوچنی سیندونه لري چې نږدې د ۷۵ میلیارد متر مکعب اوبو د سپما کولو وړتیا لري. له

»

بده مرغه افغانستان په کور دننه د خپلو پاکو او صفا اوبو یواځې ۳۰ سلنه برخه کاروي، او پاتې ۷۰ سلنه اوبه نورو ګاونډیو هیوادونو ته په وړیا توګه بهیږي. دولت باید د اوبو سم مدیریت لپاره اقدامات وکړي، ترڅو د هیواد د کرنې په برخه کې ترې ښه ګټه پورته شي.

**د بزګرانو او دولت ترمنځ اړیکه ساتل**

هغه ځمکې، فارمونه، جایدادونه او داسې نور ځایونه چې د کرنې لپاره بزګرانو ته ورکول شوي دي، وخت پر وخت یې باید خبر تر لاسه شي څو بزګران، کسبګران او صنعت کاران وهڅیږي او پر خپلې ځمکې د کښت شخه د ډېرو ګټو ترلاسه کولو په موخه زیاته هڅه وکړي او په پایله کې یې د هیواد کرنیز پیدا وار زیات شي.

**د کښت او کرنې لپاره اساسي بنسټونه رغول**

دولت باید بزګرانو او نورو خلکو ته چې دولتي وچې او شاړې ځمکې د کرنې لپاره چمتو کوي د بانک شخه د ترون پر بنسټ د ښې سرې، تخمونو او ماشین آلاتو د پېرلو لپاره د پور زمینه برابره کړي، ترڅو په تولیداتو کې ډېروالی راشي. همدارنګه، دولت باید د اوبو د ذخیره کولو لپاره لوی نهرونه، د اوبو بندونه،کانالونه او داسې نور ځایونه جوړ کړي، تر څو ځمکې ښه خړوبې شي اوپه حاصلاتو کې ډېروالی راشي. د کرنیزو تولیداتو د اصلاح او زیاتوالي لپاره کلو او ولسوالیو ته د بزګرانو روزلو لپاره کرنیز روزونکي واستوي او همداراز د کرنیزو تولیداتو د هڅونې لپاره کورني او بهرني بازارونه پیدا کړي. سربېره پر دې، دولت باید په هیواد کې دننه د کورنیو تولیداتو لپاره کارخانې، سرد خونې او فابریکې جوړې کړي، تر څو په داخلي تولیداتو کې ډېر والی راشي او په ښه توګه ترې ګټه پورته شي.

**په کرنیزو چارو کې ټکنالوژي کارول**

د نړۍ د پرمختګ په برخه کې د ټکنالوژۍ رول له پامه نه شو غورځولی. ټکنالوژي د مالي، اداري، بانکي، اقتصادي، سیاسي او امنیتي مالوماتو په لېږدولو سره د اقتصاد او پرمختګ په برخه کې ډېره مرسته کوي، او په هره برخه کې اسانتیا رامنځته کوي. نو له دې کبله، اړینه ده چې په کرنیزو چارو کې هم له ټکنالوژۍ ګټه واخیستل شي.

**د تخمونو، سرو او بوټو زیاتوالی**

دولت باید بزګرانو او کسب کارانوته د کرنیزو تولیداتو لپاره سرې، تخمونه، بوټي، درمل او داسې نور د اړتیا وړ څېزونه چمتو کړي، تر څو د اړتیا په وخت کې ترې ګټه واخیستل شي. دولت باید د کورنیو تولیداتو لپاره نندارتونونه، سیمینارونه او داسې نور ښوونیز پروګرامونه چمتو کړي ترڅو کورني تولیدات په داخلي او بهرنیو بازارونو کې پېرودونکي را جذب کړي.

لیکنه: سید خالد خالقیار

سرچینې:

۱- دافغانستان د اقتصادي پرمختګ پروړاندې ستر خنډونه/https://pajhwok.com/ps/opinion/

۲- د هیواد په پرمختګ کې د ټکنالوژۍ اغېز/https://www.nunn.asia/170700/

۳- د هیواد د اقتصادي پرمختګ اړتیا اوشته فرصتونه/https://www.nunn.asia/203976/

۴- مال او پیسې کتاب لیکوال مطیع الله نوشیر سروري ۱۳۹۵ کال.

# رقابت در برنامه های اقتصادی چگونه است




عبدالحفیظ شاهین

رقابت یکی از واژه های مهم اقتصادی است گه بر اساس آن فروشندگان در تلاش اند تا برای دست یابی به اهداف خود مانند، محصول، نفع، سهم، قیمت توزیع و غیره را در بازار جستجو نمایند. امروز در سطح جهان، موضوع رقابت در فعالیت های مالی و تجارتی به عنوان یک پدیده اصلی به اثبات رسیده است. بناءً در شرایط کنونی رقابت در عرصه فعالیت های اقتصادی به عنوان یکی از عوامل تعیین کننده در سرنوشت مُوسسات مالی و تجارتی اهمیت اساسی خود را دارد.

رقابت در حقیقت عبارت از سبقت جویی و یا حالتی را گویند که در یک بازار تعداد بیشتر از تاجران نتوانند کالا به اندازه عرضه و تقاضا وارد نمایند که در قیمت بازار مفید باشند. رقابت دو نوع بنام های رقابت کامل و رقابت ناقص می باشد.

رقابت کامل: عبارت از شیوه است که در آن تعدادی زیادی از تولیدکنندگان و مصرف کنندگان بر سر یک کالای مشخص به دادو ستدمی پردازند. در این گونه بازار سهم هر تولید کننده ی نمی تواند با استفاده از کم و زیاد نمودن تولیدش روی قیمت بازار تأثیر بگذارد. در رقابت کامل اگر تولیدکننده ی کالا های خود را بالاتر از بازار ارائه کند خریداری نخواهد داشت. برخلاف اگر کالای خود را به قیمت پایین تر از قیمت بازار ارائه کند تمام کالا هایش به زود ترین فرصت به فروش خواهد رسید.

رقابت کامل بر اساس فرضیه های استوار است که عبارت اند از شیوه عقلانی، اطلاعات کافی عرضه کننده و تقاضا کننده، عدم برتری و ترجیح و جابجایی سریع عوامل تولید می باشند. در شیوه عقلانی تولید کننده باید بر اساس رفتار عقلانی خود را دنبال حد اکثر کردن نفع باشد. در این صورت از مصرف کننده نیز انتظار می رود که به دنبال بیشتر ساختن مطلوبیت تولید خود باشد. در غیر این صورت رقابت مفهومی نخواهد داشت. اگر کدام وقت قیمت کالا پایین تر از تولید شده و تولید کننده زیانمند شود در آنصورت تولید کننده می تواند به اسرع وقت عوامل تولید خود را به بازار دیگری انتقال نماید.

رقابت انحصاری به بازاری اطلاق می

گردد که در آن تعداد زیادی عرضه کنندگان در آن دقیقاً کالای یک سان را نمی فروشند. در چنین بازار فروشندگان این قدرت را دارند تا کالا های شان را قیمت گذاری کنند. در رقابت انحصاری بر خلاف رقابت کامل، رقابت بین فروشندگانی است که زیاد تر یا کمتر از همدیگر آگاهی داشته باشند. در این بخش تنها موضوع مهم عبارت از تفاوت در تولید شان می باشد.

انحصار چند قطبی عبارت از بازاری است که در آن چندین شرکت کالا های هم مانند یا غیر هم مانند را به فروش می رسانند. در چنین بازار اگر کالا ها یکسان، مانند طلا باشد انحصار چند قطبی خالص و اگر غیر هم مانند، مانند تلویزیون، کمپیوتر و غیره باشد انحصار چند قطبی نا خالص گفته می شود. در چنین حالت اگر تعداد شرکت ها خیلی زیاد باشد این بازار به رقابت کامل و اگر یکی باشد انحصار کامل گفته می شود. در این صورت هم شرکت ها به یکدیگر وابستگی پیدا کرده و بر یکدیگر تأثیر می گذارند.

در مورد رقابت دیدگاه های مختلفی از دانشمندان و نظریه پردازان وجود دارد که به اختصار به بعضی از آنها اشاره می گردد.

نظریه آدام اسمیت

آدام اسمیت می گوید که رقابت عبارت از فعالیت و حرکتی است که تنها در حالت های " عدم عادل " یعنی هنگامی که تعادل عرضه و تقاضا برهم بخورد به میان می آید. او می گوید هنگامی که اضافه عرضه به میان آید در آنصورت عرضه کنندگان در بازار با هم رقابت می کنند. اگر بر عکس عرضه کاهش پیدا کند، متقاضیان بخاطر اختصاص دادن کالا های موجود در بازار برای اختصاص دادن به خود جدیت به خرج می دهند.

نظریه نئوکلاسیک ها

نئو کلاسیک ها رقابت را به ساختار وضع تعادلی بازار تعبیر کردند. آنها عقیده دارند که اگر در بازاری فروشندگان بیشتر با خریداران متعددی معامله کنند و هر کس از قیمتی که دیگران به آن خرید و فروش می کنند آگاه باشند، در آن صورت می توان گفت که رقابت وجود دارد.

نظریه شومپیتر

شومپیتر در مورد رقابت معتقد است که رقابت واقعی میان شرکت های کوچک که تولید کننده کالا های یکسان هستند صورت نمی گیرد، بلکه میان شرکت های مبدع صورت می گیرد که شکل انحصاری را بخود گرفته و سود انحصاری را از آن بدست می آورند، بعد از این مرحله، مرحله ی ابداع جدید آغاز می گردد و سود انحصاری شان از بین می رود.

رقابت از دیدگاه اسلام

ریشه اصلی رقابت عبارت از نفع شخصی و تضاد منافع یک شخص با دیگران می باشد. از دیدگاه اسلام نفع شخصی چیزی است که در راستای منافع مشروع دیگران باشد نه در تضاد با آنها. در نظام اسلامی رقابت با اخلاق سازگار می باشد، اگر رقابت به معنی کسب درآمد در چارچوب قواعد اخلاقی و حقوقی اسلامی بوده و از اثر های سوء غیر اخلاقی فلتر شده و بر اساس شیوه اسلامی عیار شود بهتر است.

منابع:

۱-عنوان مقاله، انواع بازار در اقتصاد چه هستند و چه ساختاری دارند؟ سال ۱۴۰۰ / https://blog.faradars.org

۲ - perfect ,Competition: 3 Examples of the Economic Theory - 2022 / https://www.masterclass.com › articles › perfect-

۳-تعریف المنافسة وانواع المنافسة وفوائد المنافسة وسلبیاتها / . https://www.business4lions.com


# هېوادواله!

## افغانستان زما او ستا ګډ کور دی.

مونږ د خپل هېواد د بنسټیزو پروژو په ملاتړ سره کولای شو خپل افغانستان آباد کړو.

هو!

بانکونه د بنسټیزو پروژو په تمویل او د کار په رامنځته کولو کې رول لري.



بانک

ماهنامهٔ د افغانستان بانک

سال شانزدهم شماره ۱۸۵ جمادی الاول ۱۴۴۴ (قوس ۱۴۰۱)

# پول ما هویت ماست.

## حفظ و نگهداری از بانکنوتهای افغانی و جلوگیری از مندرس شدن زود هنگام بانکنوتها وجیبه ملی همه ماست.

